مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۱/۰۹/۲۰

# مابنامی مجلس

## (۱۹)




میلمه عجیبه حالت درلود؛ لکه له ډېرې غوسې چې ځوک خاندي. موبایل یې سترګو ته نیولی و. پر اوږه یې راته لاس کېښود او د سترې مشي لپاره یې پاڅېدو ته پرېښودم. مخامخ راته پر فرش کیناست او بیا یې ویل، دا وګوره: عکس کې د چورلکو په څرخ کې غټو غټو خلکو ټالونه اچولي وو او داسې یې ځنګلي لکه دا چې د څرخ پره نه، بلکې د ببرې کوم ښاخ وي.

حیران شوم؛ څو ځلې مې سترګو ته نږدې کړ؛ خو پر صحت یې باوري نشوم.ما ویل دا فوتو شاپ دی . بل عکس یې راښکاره کړ:

ټایرونو والا څوکیو کې غټ غټ کسان ناست دي او داسې یې پو بل سره جنګوي لکه پارکونو کې چې برقي موټرو ته شوخ ماشومان کیني.

بیا مې سترګو ته نږدې کړ: دا هم فوتوشاپ دی.

بل عکس یې راوښود: ځوان په ټایرونو والا څوکۍ کې ناست دی، د یوه بایسکل سپور د بایسکل یوه برخه یې نیولې او پر سړکه مست روان دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سترګو ته مې نږدې کړ: د جعل او تزویر زمانه ده. دا هم فوټو شاپ دی.

یو دم میلمه غوسه شو: تل مو همداسې نیمګړتیاو ته پلمې لټولې. یا د ویرې له کبله او یا د دلچسپې له کبله؛ نتیجه داشې چې نیمګړتیاوې همداسې ادامه پیدا کړي او د خلکو د خندا شوو.

د موبایل ډاټا یې آن کړه، مسیج راغی. فقط ۱۰۰ ام بې پاتې و. ویل یې دا کریډیټ مې خاص مشکل ته ساتلی و؛ خو مجبور ترې تېر شم. وګوره، د فاتحینو ویډیو ګانې وګوره چې یقین دې راشي:

بس همدا عکسونه چې مې لیدلي وو، همدا حالتونه مې په ویډیو کې هم ولیدل. غلی شوم. ما ویل دا د دښمن تبلیغات دي، یو څوک چې د نړۍ ۵۰ پرمختللي هیوادونه مات کړي، څنګه دومره ساده کېدلای شي؟

میلمه پیالې ته لاس کړ، ژر یې له مخې لرې شوم. ما ویل سرې غوسه دی، هسې نه په خپله حجره کې مې په دې ټنډه وولې او بیا د پانسمان لپاره پیسې هم نه وي. خو د خدای شکر و، هغه ترې دوه درې ګوټونه وکړل او بیا یې ویل: و ساده ګله! دې ځایونو ته عام خلک نشي تللی. دا وسلې نه ګورې، دا صحنه نه ګورې، دا لباسونه یې نه ګورې چې ستا به کله سترګې پرانیستل کیږي؟

غلی وم. ربښتیا خبره وي، ملامت وم. ځکه د میلمه هر ثبوت مې رد کړی و. د توجیهاتو په فکر کې شوم. له ژور فکر وروسته مې ذهن یاري وکړه. میلمه ته مې ویل:

هغه انګریزي کیسه دې لوستې؟

ــ کومه یوه؟ او بل زه په انګریزي څه پوهېږم او څومره چې تا پیژنم والله که ستا هم له ( واول حروفو) اخوا، نور څه زده وي.

ــ هههههه. ربښتیا وایې. اوس رانه هیره ده، چې ژباړه مې ورته لوستې وه او که اصلي کیسه؛ خو مفهوم یې اوس هم راته یاد دی.

ــ ښه، دا خبرې پرېږده، اصلي کیسه کوه.

ــ چې داسې ده نو غوږ شه:

یو سړی له خپل نوي زلمي شوي ځوی سره په ریل ګاډي کې سفر کاوه. خواته یې یو بل ځوان له خپلې معشوقې سره داسې جوخت ناست و، لکه د ژوندي پاتې کېدو لپاره چې له هغې چارج اخلي. دواړه لګیا ول او عاشقانه مجلس یې شروع کړی و.

هغه هلک یو دم ګوته ونیوله ( د لاس اشاره) او له پلاره یې وپوښتل: پلاره! دا څه شی دي؟ پلار یې ورته په خوشالی وویل :سمندر. یو دم هلک په ټوپونو شو. سمندر، سمندر... هغه سمندر همدا و؟

له لږ سفر وروسته یې بیا ګوته ونیوله: پلاره! دا څه دي؟ پلار یې په مینه وویل: دا ځنګل دی. هلک بیا څوکی کې ټوپونه ووهل او له خوشالی یې چیغې کړې: ځنګل، ځنګل!

لږ وروسته یې بره لاس ونیوه او له پلاره یې پوښتنه وکړه: دا څه دي؟

هغه ورته وویل: دا وریځې دي، هلک بیا په ټوپونو شي، هاه، وریځې، وریځې... د باران غولانځې ....

ځوان چې له خپلې معشوقې سره د دې هلک هر مسخره حرکت نور پکو کړی و، د هلک پلار ته یې مخ ور واړو:

بابا! دا مو څه ریشخند شروع کړی، ارام کینئ او موږ هم ارام ته پرېږدئ.شرم دی. دا خو دومره ماشوم هم نه دی چې هر څه ووینې او ټوپونه شروع کړي او ته لا ورته خوشاله یې.

د سړي سترګو کې اوښکې راوخوتېدې. د نیکتایې په څوکه یې وچې کړې او بیا یې خپل ځوی پر سر ښکل کړ او غېږ کې یې ټینګ کړ. ځوان ته یې وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ته رښتیا وایي؛ خو ځوانه! کیسه دا ده چي ځوی مي په ډیر ماشومتوب کي ړوند شوی و. د دې هر څه یي یوازې نومونه اوریدلي و. ایله اوس مي د عملیات وس پیدا کړ. بستر مي کړ، سترګي یي عملیات شوې او نن ترې ډاکټرانو پټی لرې کړي.

له دې سره ځوان شرمنده شو او خپلو نیوکو ته ځوریده.

د کیسي په پای کي د میلمه هم سترګي سرې شوې وې. ورو مي ورته ویل: اوس پوه شوې؟

میلمه، په پټه خوله د تایید سر وخوځاوه.شیبه دواړه غلي وو. میلمه ویل:

ګوره، منم چي دوی په غرونو کي لوی شوي. دا هرڅه چي کوي، ورته نوي ښکاري. دا د محرومیت نښي دي. که جګړې نه وای، که خلک دومره محروم نه وای پاتي شوي، اوس به یي په لویو لویو ړیرو د ماشومانو پیښي نه کولي. خو خبره دا ده چي ټوله دنیا راګوري. شریر ګاونډیان راګوري. سبا به هالیووډ او بالیووډ په دې هم فلم جوړ کړي وي او زموږ راتلونکی نسل به له غوسي تور او شین کیږي او دا به د پښتنو توهین ګڼي.

میلمه خبره پسي وغځوله: خیر دی، که مشران یې نه متوجه کوي نو دوی دې مهرباني وکړي، پښتو خبرې خو دې نه کوي! ما ویل دا اوس تاته څه د علومو اکاډمی د خیرنیز مرکز غړي ښکاري چي په ګڼو ژبو به پوهیږي.

میلمه موسک شو: هغه د چارلي چاپلین سریال دې کتلی، هماغه شان دې فقط د خپلي خوښي حرکتونه کوي او له خولي دې غږونه، نه کاږي. یا دې حد اقل ویډیو ترې نه کوي. ښه، دوی د دغه شان ویډیوګانو په جوړولو خپلو خلکو او پردیو ته څه پیغام رسول غواړي؟

ما ویل: پریږده دا فلسفي، چای دې واخله چي سوړ شو.

له میلمه پیاله چپه شوه او بیا غلی شو، ما ویل: ته هم لکه چارلي چاپلین، اوس خبرې نکوې، پیاله دې ولي چپه کړه؟ سړی په خندا شو او له حجرې ووت.

---

**نوټ:**

له ښاغلي Imran Saqeb نړی مننه چي د ماښامي مجلس لپاره یي په هنرمندو ګوتو دا لوګو ډیزاین کړه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ